AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۶/۰۹/۰۹

# د اینځري استاد بینجو

## او د عبدالواحد غمخوار مرثیه



له روانو چارو به لیرې کړځو؛ د یوه واده خاطره به شریکه کړم:

هسې خو په ظاهره د استاد رباني واکمني وه؛ خو عملاً په هره سیمه کې د هغې وسلوالي ډلې باچاهي وه چې هلته مسلطې وې.
د دې ډلو د بې شماره بد ګنو په منځ کې، یوه ښېګڼه دا وه چې د چا فردي ازادی یې نه سلبولې.
زموږ له کلي ګړ وړاندې کلي کې واده و. واده د شپې لخوا و او موږ ورته له مازیګره ګوتې شمېرلې.
چې څنګه د ماښام لمر له مخامخ غره واوښته؛ ور وخوځېدو .انګړ جارو شوی و، اوبه شیندل شوې وې او د خاورې خوشبويي دماغونو ته لذت ور بخښه. د ګیسونو رڼاوې خورې وې. د انګړ په نسبتاً لوړه برخه کې پر سترنجې توشکې هوارې وې، بالښتونه ایښي ول، لکه دا ځای چې اشرافو ته ځانګړی شوی و.
شیبه وروسته یوه ډله کسان همدلته کښیناستل. یو دنګ او ږیرور سړی ،چې له خړ پکول یې ببرې څنې راوتلې وې، په ځادر کې تاو شی مخې ته کېښود او د غوټو په پرانیستلو یې پیل وکړ. ما ویل که قاتکې کلاشینکوف دی او اوس به د آسمان پاکې لمنې ته لپه لپه ترخه باروتي لوګي وشیندي. خو، هغه بینجو وه. په تنبو یې ګوتې ور کېښودې، وې خوځولې او په پسته نغمه یې د ننداړچیانو غوږونه ونازول. دا سړی اینځری استاد نومېده او واقعا چې د بینجو استاذ و.
شیبه وروسته ساز سُر شو.
له څو محلي سندرو وروسته، مرحوم عبدالواحد غمخوار غاړه صافه کړه او خپل شعر یې شروع کړ.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

دا شعر نه و؛ سم د حمید بابا خبره د زخمي زړه خوناب و، چې آن زړونو ته يې ټکانونه ور کول. شعر یوه مرثیه وه چې د یوې تازه پېښې په اړه لیکل شوې وه .
کیسه داسې وه چې کله کابل ښار کې تنظیمي اژدهاوې یو بل ته مخامخ شوې او د دې ښایسته تاریخي ښار د نیولو سیالۍ یې پیل کړې؛ نو ښاریانو ته خپل ښار په ګرم تنور بدل سو. هر چا منډې وهلې او له بر پا شوې قیامته یې د خپلو سرونو او عزتونو د خوندي کولو هڅې کولې.
د دغو ویریدلیو او تښتېدلیو کابلیانو لپاره د جلال آباد - تورخم په لاره کیمپ جوړ سو او د کابل کیمپ په نوم یاد شو. دې کیمپ ته د ګڼو سیمو بېوزله خلک هم ور شیوه سول.
په همدې پنډغالي کې زموږ د الینګار ولسوالۍ یوه کورنۍ، هم مېشت شوه.
دې بېوسه او غریبو کډوالو به د ننګرهار له فارمونو خاشاک راوړل او خپل نغري او تنورونه یې پرې بل ساتل.
په هغه ورځ د یادې شوې کورنۍ مشره، شیرینه ترور له خپلو لمسیانو سره، کوم فارم ته تللې وه. هلته يې مرخېړي، راټول کړي ول؛ خو چې کله یې کور کې پاخه کړي او خوړلي یې ول؛ نو زهري ول او شیرینه ترور یې له ځلورو لمسیانو سره مړه کړې وه.
عبدالواحد غمخوار همدغه پېښه شعر کړې وه او په هغه شپه یې د غمجنو سازونو له بدرګې سره، په داسې انداز کې ترنم کړه، چې ټول اورېدونکي یې وزنګول. د دې مرثیې ځینې برخې مې اوس هم د حافظې په تاخچه کې دي:

ستا ځلور لمسیانو سره خلاصه آو دانه شوله
و شیرینې تروري مرخېړي درته بهانه شوله
....
مال د پاک الله و، پاک الله ځانته بللي دي
نه دا پینځه کسه چا په قرض کې نیولي دي
ښې پیسې معلومې، پنځه لکه لګېدلي دي
تا و قبول کړي ځه په کار شفاخانه شوله
و شیرینې ترورې مرخېړي درته بهانه شوله...


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ